د مې د درېیمې په مناسبت

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان تحلیل

02.May.2025 - ۱۴۰۴. ۰۲. ۱۲

د مې درېیمه د رسنیو د ازادۍ نړیوالە ورځ ده، چې له ۱۹۹۳ کال را په دېخوا د یونیسکو له خوا نومول شوې او د رسنیو او رسنوالو د ازادۍ او اطلاعاتو ته د خلکو د لاس‌موندنې د ارزښت و اهمیت څرګندولو لپاره لمانځل کېږي.

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان دغه ورځ ټولو افغان رسنوالو په تېره بڼځینه خبریالانو، تر ګوابښ لاندې رسنوالو، د مدني ټولنې فعالینو او په نړۍ کې د وینا و رسنیو خپواکۍ ته هرژمن انسان ته مبارکي وایي. مور دا ورځ په داسې حالاتو کې لمانځو چې دننه په افغانستان کې رسنۍ، رسنوال، د بیان ازادي او اطلاعاتو ته د خلکو د لاس‌موندنې حقونه په تېرو پینځه ویشتو کلونو کې بدترین حالت ته رسېدلي دي.

پر هېواد واکمنې ډلې (طالبانو) د خپلې واکمنۍ د لومړنۍ دورې په شان یوځل بیا په رسنیو کې د ژوندیو موجوداتو د تصویرونو په ښوولو بندیزونه لګولي او تراوسه دغه بندیزونه په ۱۶ ولایتونو کې نافذ او په نورو ولایتونو کې یې د پلي‌کېدا هڅې روانې دي.

لسګونه رسنۍ د بېلابېلو محدودیتونو او بندیزونو له کبله تړل شوي او ګڼو نورو یې خپل کیفي او کمي ظرفیتونه له لاسه ورکړي دي. په همدې تېرو میاشتو کې د بېګم راډیو بنده شوې، د کندهار په رسنیو کې د ښځو پر غږ بشپړ بندیز لګېدلی، د سیاسي خپرونو او بحثونو په جوړېدو بندیز دی. پر خبریال مهدي انصاري یونیم کال او د شمشاد پر خبریال صابر رحیمي اووه میاشتې بند ختلی. همداراز خبریالان هریو اتحاد عزیزي، راشد کاشفي نیول شوي او فلم‌جوړوونکی او د انار میډیا مسئول مدیر سیدرحیم سعیدي هم په زندان کې ساتل کېږي.

په مجموع کې د شدید سانسور او محدودیتونو له کبله هېواد مېشتو رسنیو مسلکي توانمندي بایللې او رسنیز تولید یې دومره بې‌کیفیته شوی، چې تر دې ورهاخوا له مالي پلوه هم خپل کار ته دوام ورکولای نه‌شي او په دې توګه په سقوط محکومې دي. یوه بېلګه یې د طلوع مشهور تلویزیون او د رسنیز تولید ټولګه ده، چې څه موده مخکې یې خپل تشکیل تر

ټولو کم برید ته راکم کړ او لسګونه رسنوال یې وزګار شول.
په دې برخه کې د افغانستان لپاره ټرکال یوه بله بده پېښه دا وه، چې په امریکا کې
د هېوادمشر ډونالد ټرامپ تر واک ته رسېدو روسته پر امریکا غږ او ازادۍ راډیو ګانو مالي سرچینې وچې کړای شـــوې او افغانانو ته دغه ګڼمخاطبه رســـنۍ د ســـقوط له ګوابنس سره مخامخ شـــوې، که څه هم پـــه دې برخه کې د حقوقي بنســـټونوملاټړ او د دغو رســـنیو د چلوونکیـــو هڅې لا روانې دي، چې دغه رســـنۍ ژوندۍ پاتې شي، خـــو په جدي توګه يې دا پوښـــتنه او تشـــه راولاړه کړې ده، چې که نن نه سبا ته په نړیوال کچ داسې رسنۍ ګونګې شي، افغانان به څه کوي؟ ځکه ښـــایي افغانســـتان له نادرو هغو هېوادونو څخه وي، چې په یویشتمه پېړۍ کې پیاوړې، مسلکي افغاني رسنۍ نه‌لري او خلک يې د اطلاعاتو ترلاسه کولو لپاره په لوی سر کې په همدغو نړیوالو رسنیو تکیه کوي.
په افغانســـتان کې دننه د رسنیو او رســـنوالو د ملاټړ او له دوی څخه د دفاع بنسټونه هم دومره تر فشـــار او محدودیتونو لاندې فعالیت کوي. په تبعید کې هم د افغان رســـنیو او رسنوالو وضعیت ښه نه دی. دوی د نورو هیوادونو په پرتله لږ ملاټړ لري. داسې ایسي، لکه نړۍ چې افغانستان او افغانان هېر کړي دي او نور نو څوومه درجه اهمیت هم نه‌ورته لري. ګڼ شمېر افغان خبریالان لاهم د ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو په برزخ کې ګیر پاتې دي او هره شـــېبه يې د نیولو، شړلو او بې‌برخلیک‌کېدلو امکانات شته. ایران و پاکستان چې ګڼ خبریـــالان په کې درېیمو هېوادونو ته د وتلو په تکل مېشـــت دي، په دې روســـتیو کې د افغانانو د شړلو بهیر چټک کړی دی، په دې لړ کې د خبریالانو په اړه ناوړه خبرونه رارسېږي. په همدې ټېرو اوونیو کې د پاکســـتان پولیســـو او امنیتي مامورینـــو په دغه هېواد کې څو مشـــهور افغان خبریالان ونیول، ویې ربړول، د شړلو هڅه يې وکړه او سپکاوی يې ورته وکړ. په ایران کې هم وضعیت تر دې بدتر دی. په نوره نړۍ کې هم افغان خبریالان له مســـلکي کارڅخه بې‌برخې او له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي.
د افغانســـتان له رســـنیو څخه د ملاټړ ســـازمان په ټېر یوه کال کې پـــه دې ټولو برخو کې هراړخیز اقدامات کړي او له نړیوالو سازمانونو او بنسټونو سره د منظمو کاري اړیکو له لارې هڅه کوي، د خندونو او ستونزو په لرې کولو کې خپله ونډه، ژمنه او مسئولیت ترسره کړي. په دې برخو کې ځینو نړیوالو سازمانونو همکاري کړې ده، چې همدلته ورڅخه مننه کوو.
د جمهوریت پرمهال په افغانستان کې ۵۴۷ رسنیو فعالیت کاوه چې شاوخوا ۱۲ زره کسان په کې پر کار بوخت وو. له دې جملې څخه شـــاوخوا دوه زره ښځې وې د رسنیو په بېلابېلو برخو کې يې کار کاوه.

له ۲۰۲۱ کال وروسته، دا کچه په بې‌ساري ډول راټیټه شوې ده. دا مهال په هېواد کې یوازې ۲۹۶ رسنۍ فعالیت لري. همدارنګه، د رســـنیزو کارکوونکو شمېر ۴٬۱۵۷ ته راکم شوی دی، چې له دې جملې یوازې ۵۵۷ تنه ښـــځې دي. دا بدلون د ښـــځو د ګډون له پلوه یوه جدي شاتګ ښیي.

تاوتریخوالی او پر خبریالانو فشارونه:
له ۲۰۲۱ کال راهیســـې، د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۵۲۵ بېلابېلې پېښـــې ثبت شوې دي. دا پېښـــې فزیکي بریدونه، ګواښـــونه، نیـــول او ان بندي کېدل شـــامل دي. دا مهال ۹ خبریالان په بند کې دي چې دا د رســـنیو د ازاد فعالیت او د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې یو جدي اندېښمن وضعیت منعکسوي.

په افغانســـتان کې د رسنیو ازادي، د خبریالۍ مسلک او د ښځو حضور له جدي ګواښونو سره مخ دی. د رســـنیو د شـــمېر او خبریالانو د کمښـــت ترڅنګ، تاوتریخوالی، سانسور او قانوني محدودیتونه د بیان د ازادۍ بنســـټونه یې له منځه وړي دي. نړیوالې ټولنې، د بشري حقونو ســـازمانونه او رسنیزې ټولنې باید د افغانستان د خبریالانو ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړي څو د ازاد او مسوول ژورنالېزم چاپېریال ببرته پر پښو ودرېږي.

د مې د میاشـــتې د درېیمې په مناسبت یوځل بیا په ټولو نړیوالوسازمانونو، همکارو بنسټونو او مســـئولو ارګانونو غږ کوو، چې د افغانستان رسنیزه کورنۍ یوازې پرېنږدي او د متمدنې نړۍ له دغو خورا مهم او بنســـټې ځواک سره په منظمو اړیکو او مرســـتو سره له افغانانو څخه اطلاعاتو ته د لاس‌موندنې په برخه کې ملاتړ وکړي.

سازمان د راروان کال په اوږدو کې ځینې عملي پروګرامونه ترلاس لاندې لري، چې په دې ټولو برخو کې به هرراز مختګونه او بدلونونه وخت ناوخت د نړیوالو تر غوږونو ورســـوي. یوځل بیا دې د مې درېیمه د رسنیو د ازادۍ ورځ، ټولو رسنوالو ته مبارک شي.

مور د یوه بنسټې حق په توګه د وینا و رسنیو خپلواکي ته درناوی لرو
د افغانستان له رسنیو د ملاتړ سازمان